# دیوالي چیغه

د هیڅ ځای زړه پر افغان خلک نه خوږیږي
زوړ او ځوان د جګړې په اور سوځیږي
جنازې له هر برخي پورته کیږي
مور د ځوی په ویر په چیغو ژړیږي
هر زور واک د پردی په زور حاکم دي
شتمنی د افغانانو ټول لوټیږي
د ځنګل قانون وطن کی جاری دي
هر زور ځواک پر بی وزلو ګواښیږي
د مسجد ملا وزیر او وکیل شوی
په وطن کی اوس قانون تر پښو کیږي
د اسلام او د جهاد تر شعار لاندي
د ملا په فتوا هر څوک کافر یږی
له نهضته اوله پیشرفته روی ګردان
د پوهانو خوله ډیر کلکه تړل کیږی
هاچي پوه وه له وطنه فراری شول
اوس ناپوهو په چوکیو لوړ غوریږي
لوړ چوکي د ټول اشرارو په لاس کي
هیڅ قانون په مجرم نه تطبیق کیږی
ښځی ټول د کور په مینځ کی بند یان
ځان سوزنه هره ورځ لا ډیریږي
**
مخاطب ځما خو ته یی ای افغانه
له دی درونډ خوبه کله را ویښیږي
ستا غیرت او همت وایه څه شول
چي په کوردی پردی خلک اوسیږي

په وطن کی دی پردی اوس حاکمان دي
د وطن ستا کانونه ټول لوټیږي
مجاهد و د پنجاب کاسه لیسا ن
د پنجاب تر ډول ټول سره نڅیږي
افغانیت او برم ټول خپل خرڅ کړي
پر طالب او ملا ټول اوس پوهیږي
ستا وطن د پردو اوس کوربه شوي
ته لا تراوسه په مطلب نه پوهیږي
هست اوبوددی مجاهد په پردوخرڅ کړ
اما ته له دی حالاتو نه خبریږي
مجاهد و د طالب سره یوځای
ستا دودونه اوس له بیخه ایستل کیږی
عربا ن ، امریکا یا ن او پنجا بیا ن
تا سره له د ښمنی هیڅ نه مړیږی
ستا د غرو د سر ټو ل ځنګلونه
پا کستا ن ته په قاچا ق وړل کیږي
***
ما ته غوږ ونیسه ای افغا ن وروره
بی له تا دا وطن هیڅ نه جوړیږی
دبا دردو افغا نا ن سره لاس یوکړه
بیره وکړه ورورچی وخت زرتیریږي
د ښمنا ن په زوره وبا سه وطن نه
دټول خلکو سترګی تا پوری غړیږي
مجاهد ،ملا ، طا لب له مینځه ویسه
څوچي دوی وی وطن هیڅ نه رغیږي
دوطن خلک اوس ټول را ویښ شوی

بی ددوی له ګډون هیڅ کا ر نه کیږي
دانصا ف اوعدالت په محکمه کي
که اشرارکړی محکمه خلک خوښیږي
دملا طالب اشرار پیسی کنګل کړي
ترهغه پوری چی وسه مو رسیږي
کرغیرن څیری د دوی زرافشا کړي
چی د خلکو وینی دوی ته ښُتیږي
په ګرمی اوملګرتیا سره وحد ت کړي
افغا نا ن پر دغه اصل ټول ټولیږی
ځماد(مل) ارمان پرځای کړي وطنوالو
چی هجرت کی می وطن نه هیریږي
*****

**جرمنی « 09-04-2019»**